د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

د متحدالمآل ګڼه: ۴۶

نېټه: ۱۴۴۴/۹/۱۱ هق

☐عاجل ☐عادي ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۸/۸هق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د حوت مياشتې د لسمې (۱۰) نيټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې لسمه موضوع داسې وه: ((کله چې ابتدائيه محکمه فيصله وکړي يو جانب مرافعه طلب سي يا مرافعه محکمه فيصله وکړي يو جانب تميز طلب شي نو په دې صورت کې به دوسيه په کوم ترتيب مرافعه محکمې او د تميز عالي رياست ته استول کيږي؟))

په اړه يې د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۳۲) مورخ ۱۴۴۴/۸/۸هق د لسمې پريکړې په اساس داسې هدايت وکړ: ((لوړو محکمو ته د دوسيې د استولو د ترتيب په باره کې دې د اسلامي امارت د محاکمو د عالي ادارې مکتوب نمبر (۱۵۷ج۵) مورخ ۱۴۴۲/۶/۱۱هق مضمون يو ځل بيا ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستول سي تر څو د هغه مطابق عمل تر سره شي.))

د سترې محکمې د عالي شورا په هدايت کې د ذکر شوي مکتوب نمبر (۱۵۷ج۵) مورخ ۱۴۴۲/۶/۱۱هق مضمون داسې دی:

((کله چې مرافعه محکمې فيصله وکړه او يو جانب تميز طلب سو دغه تميز طلب جانب خپل ټول اوراق د تميز عالي رياست ته وروړي خو هغه بل جانب يې بيا پر خپل وخت خپل اوراق د تميز عالي رياست ته نه وروړي چې په دغه وجه ځينې موضوعات ډير ځنډيږي او د يو جانب د بې ځايه سرګرداني او مشکلاتو سبب ګرځي، د دغه مشکل د مخنيوي د پاره به مرافعه محکمه داسې ترتيب کوي: چې کله يې فيصله ابلاغ کړه د فيصلې اصل به محکوم له ته او نقل به يې محکوم عليه ته ورکړي.

تر دغه وروسته به په محکمه کې موجود د هر جانب ورقې جلا جلا استپلر کړي تر څو د يو جانب ورقې د بل جانب په ورقو ګډې نسي، هره ورقه د دوسيې به ټاپه کړي.

د هر جانب د اوراقو شمير او د مجموعه اوراقو شمير به په خپل مکتوب کې وليکي په پاکټ کې به يې بند کړي ټاپه به پر ولګوي او د تميز طلب کس په لاس به يې ورکړي ورته وبه وايي چې همداسې بند پاکټ به تميز ته رسوي.

او مرافعه محکمه به و تميز طلب کس ته ووايي که کوم اعتراضات د مرافعه محکمې پر فيصله لري هغه خپل اعتراضات هم د دغه دوسيې سره يو ځای په جلا پيل کې و تميز عالي رياست ته تسليم کړه.

د دوسيې د ټولو اوراقو فوټو کاپي به محکمه واخلي په محکمه کې به يې محفوظ کړي.

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

مرافعه محکمه به دغه مکتوب چي د جانبینو د اوراقو شمیر پکښي لیکل سوی دی یو نقل د واټساپ له لاري د تمیز عالي ریاست ته واستوي.

چي کله موضوع د تمیز عالي ریاست څخه فارغه سوه نقض یا تائید د فیصلو یې وکړي د تمیز عالي ریاست به خپل دغه د تائید یا نقض مکتوب په دوسیه کي کښیږدي د محکي په شان به د دوسیي ټول اوراق په پاکټ کي بند کړي تاپه به یې کړي چي کوم چا تمیز ته راوړي وه هغه ته به یې ورکړي ورته وبه وایي چي مرافعه محکمي ته یې یوسه.

د تمیز عالي ریاست به خپل دغه د نقض یا تائید مکتوب د واټساپ د لاري و مرافعه محکمي ته هم واستوي.

یادونه: مرافعه محکمه به په فوق الذکر ترتیب باندي و تمیز طلب کس ته پوره سر ورخلاصوي، همدارنګه د مرافعه طلبي په وخت کي به ابتدائیه محاکم د پوره ترتیب موافق دوسیي مرافعه محکمي ته استوي تر څو د ځنډ، جعل او تزویر مخنیوی وشي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمي د عالي شورا د هدایت مطابق د محاکمو د عالي اداري د مکتوب نمبر(۱۵۷ج۵) مورخ ۱۴۴۲/۶/۱۱هق مضمون د دي متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمي مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغي په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمي

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه

ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af



پته: د صحت عامي څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af